د امیرِ اهلِ سُنّت د کتاب "نیکی کی دعوت" یو قسط:

# دچاعیبونه مه لټوئ

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامہ مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د چا عیب مه لټوئ

دا مضمون د کتاب "نیکی کی دعوت" د صفحه نمبر 395 تا 414 نه اخستے شوے دے.

دعائے عطّار: یا رَبَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رِساله "د چا عیب مه لټوئ" اولولي یا ئې واوري هغه د خلقو عیبونه پټوونکے او د هغوئې په صفتونو نظر ساتونکے جوړ کړې او بے حسابه ئې اُوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د **اللّٰه** پاک آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې په ورځ او شپه کښې زما طرف ته د شوق او محبت په وجه درې درې ځله دُرُود شریف اولوستو په **اللّٰه** پاک باندې حق دے چې هغه د هغۀ د هٰغه ورځې او هٰغه شپې ګناهونه معاف کړي.
(معجم کبیر، ج۱۸، ص۳۶۲، حدیث:۹۲۸)

## د ګناه نه منع کول کله فرض دي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! بیشکه د سُنّتو ډك بیان کول د ثواب کار دے او ډیره زیاته د نیك بختۍ خبره ده خو دا یاد ساتئ چې د وعظ او نصیحت بیان کول مُستحب کار دے، که چا اونکړو نو ګنهګار نه شو خو که یو کس ئې په ګناه اولیدو او غالب ګمان ئې دا دے چې که پوهه ئې کړم نو منع به شي نو د ډیرو ګینټو د بیان په مُقابَله کښې هغه د ګناه نه په منع کولو کښې زیات ثواب دے ځکه چې

اوس هغه منع کول فرض دي او نه منع کوونکے ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب''**بهارِشریعت**'' جِلد3 صفحه 615 کښې صَدرُالشَّرِیعَه، بَدرُالطَّرِیقَه حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتي **محمّد امجد علي** اَعظمي رحمۃُاللہِ علیه فرمائي: ''که غالِب ګمان دا وي چې دا هغه (ګناه کوونکي) ته اُووائي نو هغه به ئې خبره اُومني او د ګناه نه به منع شي نو اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف (یعني د نیکئ حکم ورکول) واجب دي، (په دې صورت کښې که څوك په ګناه کولو اُووِیني نو) نه منع کول جائز نه دي.''

جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے میں دیتا ہوں اُس کو دعائے مدینہ

(وسائلِ بخشش ص ۱۵۲)

چې څوك عام کړي دعوت د نیکئ زه کووم هغه ته، دُعائے مَدِینه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## امام اعظم ته به ګناهونه ښکاریدل

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 308 صفحو کتاب ''*اسلامی بہنوں کی نماز*'' صفحه 12 کښې دي: حضرتِ عَلّامه عبدُالوَهَّاب شَعرانی رحمۃُاللہِ علیه فرمائي: یو ځل سَیِّدُنا **اِمامِ اعظم** ابُو حنیفه رضی اللہ عنه د کوفے د جامِع مسجد اَودَس خانے ته تشریف یوړو نو یو ځلمے ئې په **اَودَس** کولو اولیدو، د هغه نه د اَودَس [د استعمال شوو اوبو] څاڅکي څڅیدل. هغوئي رحمۃُاللہِ علیه ورته اُوفرمائیل: اے ځویه! **د مور او پلار د نافرمانئ** نه توبه اُوکړه. هغه فوراً عرض اوکړو: ''ما توبه اُوکړه'' د یو بل کس د اَودَس [استعمال شوي] اوبه ئې په څڅیدو اُولیدې، هغوئي رحمۃُاللہِ علیه هغه کس ته اُوفرمائیل:''اے زما وروره ته د زِنا نه توبه اوکړه، هغه عرض اوکړو: '' ما توبه اوکړه ،'' د یو بل کس د اَودَس د اوبو څاڅکي ئې اولیدل نو هغه ته ئې اُوفرمائیل: ''د شرابو د نشې او د سندرو او باجو اوریدو نه توبه اوکړه'' هغه عرض اوکړو: ''ما توبه اوکړه. '' ولې چې سَیِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُوحَنِیفه رضی اللہ عنه ته به د کشف په وجه د خلقو عیبونه

ښکاريدل، لِهٰذا هغوئي رحمۃ اللہ علیہ په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې د دې کشف د ختميدو دُعا اوغوښتله، اللّٰه تعالیٰ دُعا قبوله کړه او هغوئي ته د اَودَس کوونکو د ګناهونو ريژيدل ښکاره کيدل بند شو. (المِیزانُ الکبریٰ ج 1 ص 130)

## قصداً د چا عیب معلومول څنګه دي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! تاسو اوليدل چې! د کروړونو حَنفيانو پيشوا امام اعظم، فَقِيهِ اَفخَم، حضرت سَيِّدُنا امام اعظم ابوحنيفه نُعمان بن ثابِت رحمۃ اللہ علیہ به د وِلايت په نظر د خلقو د اوداسه په ذريعه رژيدونکي نافرمانئ ليدلې! بيشکه دا د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ عظِيم کرامَت وو خو هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د خلقو په عيبونو باندې خبرداره کيدل خوښ نه کړل او د دُعا په ذريعه ئې خپل دا کشف ختم کړو! د دې نه دې هغه خلق عِبرت حاصل کړي کوم چې د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ د مَحَبَّت دعویٰ هم لري او قصداً غلط تپوسونه هم کوي او د خلقو د عيبونو په لټون پسې وي، ياد ساتئ! بغير د شرعي مَصلَحت نه قصداً د يو مُسلمان عيب معلومَول ګناه حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکے کار دے. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي پاکيزه قرآن "كَنْزُ الْاِیْمان مَعَ خَزائِنُ الْعِرفان" په صفحه 950 سيپاره 26 سُورَةُ الْحُجُرٰت آيت نمبر 12 کښې صفا راغلي دي:

وَلَا تَجَسَّسُوْا  مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: **او عيب مه لټوئ.**

## د عالِم غَلَطي بيانول په دوه وجهو حرامه ده

او که هغه **عيب** ئې بل چا ته داسې ظاهر کړو چې هغه ته معلومه شي چې دا د فلانکي **عيب** دے نو دا يوه بله ګناه شوه، که هغه عيب د يو عالِم دِين وي او هغه ئې ښکاره کړو نو ګناه نوره هم زياته شوه. چنانچه **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَيِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بن محمّد غزالي رحمۃ اللہ علیہ په **کيميائے سعادت** کښې فرمائي: د عالِم غَلَطي

بیانول په **دوه وجهو** حرام دي. **یو** دا چې دا **غِیبَت** دے. **دویم** دا چې په خَلقو کښې به **جُرأَت** پیدا شي او هغوئي به دا دلیل جوړوي او په هغه [ګناه کښې اخته عالِم] پسې به روان وي (یعني په بے باکئ سره به ګناهونه کوي) او شیطان به هم د هغه (یعني د عالِم په غَلَطیانو پسې د تلونکي د) مدد د پاره زور لګوي او (په ګناهونو باندې د زَړَوَر جوړولو د پاره به) هغه ته وائي چې ته (هم داسې داسې اوکړه) ته د فُلانکي عالِم نه زیات پرهیزګاره خو نه ئې. (کیمیائے سعادت ج1 ص410) خومره زیات خلق چې [د عالِم] د هغه خطا نه خبریږي، ګناهونه به هم [هغه همره] زیاتیږي. مُسلمان ته پکار دي چې اوّل خو پخپله دَ خلقو د عیبونو معلومولو نه ځان ساتي او که څوك ئې ورته ښودل غواړي نو د اوریدلو نه دې هم ځان ساتي. فرض کړه که په څه طریقه ورته د چا **عیب** ښکاره شي یا ورته معلوم شي نو هغه دې پټ کړي. بغیر د شرعي مَصلَحت نه دې ئې بالکل چا ته نه ښکاره کوي.

## د عیب پټولو باره کښې 3 فرامِینِ مُصطفٰی ﷺ

د **عیب** پټولو په باره کښې **3 فرامِینِ مُصطفٰی** صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم واورئ: **(1)** څوك چې د خپل مسلمان ورور عیب پټ کړي **اللّٰہ** تعالٰی به د قیامت په ورځ د هغه عیبونه پټ کړي. او څوك چې د خپل مسلمان ورور عیب ښکاره کړي **اللّٰہ** تعالٰی به د هغه عیب ښکاره کړي تر دې چې هغه به په خپل کور کښې رُسوا کړي. (ابنِ ماجه ج3 ص219 حدیث 2546) **(2)** څوك چې د یو مسلمان تکلیف لرې کړي **اللّٰہ** تعالٰی به د قیامت په تکلیفونو کښې د هغه تکیلف لرې کړي او څوك چې د یو مسلمان عیب پټ کړي نو خُدائے سَتَّار عَزَّوَجَلَّ به د قیامت په ورځ د هغه عیبونه پټ کړي. (صحیح مُسلِم ص 1394 حدیث 6580) **(3)** څوك چې د خپل ورور عیب اُووِیني او د هغه **پرده** اُوساتي نو هغه به جَنَّت ته داخل کړے شي. (مُسند عَبد بن حُمَید ص 279 حدیث 885)

# د عيب لټولو 59 مِثالونه

**دلته** چې کوم مِثالونه وړاندې کيږي په هغې کښې د عيبونو د لټون (يعني لټولو) سره ضِمناً غِيبتونه، تُهمتونه او بدګُمانئ وغيره هم شامِلې دي. اکثر داسې مِثالونه دي چې په هغې کښې به د نِيَّت په اعتِبار احکام هم مُرَتَّب کيږي. مَثَلاً د نوکر ساتلو، د شِراکت داريځ (يعني حصه داريځ او) يا ئې چرته د واده اِراده وي نو د ضرورت مطابق معلومات کولو کښې ګناه نشته بلکه په داسې مُعامَلاتو کښې چې د چا نه تپوس اوکړے شي په هغه واجب دي چې صحيح خبره وښائي او که د داسې مُعامَلاتو [نه علاوه هسې] تپوسونه کول وي نو د **غِيبَتونو** او تُهمتونو په ذريعه دې ځان له جَهَنَّم ته د تلَلو لارې نه جوړوي بلکه د عيبونو پټولو نه دې کار واخلي او د جَنَّت حقدار دې جوړ شي. خو عام طور د قِسما قِسم تپوسونو په ذريعه د **عيبونو په لټون** (يعني په عيبونو معلومَوَلو او چخولو) کښې دا نِيَّت نه وي، بس خلق هسې بے مَقصده تپوسونه کوي او کله کله پخپله هم په ګناهونو کښې اَخته کيږي او ډير ځل جواب ورکوونکے هم ګنهګار شي. [مَثَلًا] ❁چا کور په کرايه واغِستو نو د هغه نه تپوس کول: د کور مالِك څنګه سړے دے؟ دا تپوس که پخپله ګناه نه وي نو هُم د ګناهونو سَبَب جوړيدے شي. مَثلاً کرايه دار که په جواب کښې اُووائي چې: په معاملاتو کښې ګړ بړ کوي، ډير بَد اخلاقه او شُوم دے، دغسې **درې عيبونه** ښکاره شو هغه هم هله که په هغه کښې [دا عيبونه] وي نو عيب به ورته وئيل شي او د دې ښکاره کول درې **غِيبتونه** شو ګڼې [که په هغه کښې دا عيبونه نه وي نو] **تُهمتونه** شُو. او که صرف د دې د پاره ئې تپوس کړے وو چې د کور د مالِك عيبونه معلوم شي نو اوس دا د "عيبونو لټون" هُم شو او دا [ټول] ګناه حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکي کارونه دي. ❁که چا کور په کرايه ورکړے وي نو دا تپوس کول: کرايه دار څنګه سړے دے؟ دا تپوس که پخپله ګناه نه وي نو هُم د ګناهونو سبب جوړيدے شي. مَثَلاً د کور مالِك که په جواب کښې اُووائي چې: ډير غټ تَګ دے، کله هم په وخت کرايه نه راکوي، فضول په کور کښې ټَك ټُوك کوي زما مکان ئې ټول خراب کړو. دغسې ئې درې عيبونه ښکاره کړل او

هغه هم هله که په هغه کښې [دا عیبونه] وي نو عیب به ورته وئیل شي او د دې ښودل درې **غِیبتونه** شو ګني [که په هغه کښې نه وي نو] **تُهمتونه** شُو. ❁ستاسو نوے نوکر صحیح کار کوي که نه؟ دا تپوس کول هم بغیر د اِجازَتِ شرعي نه عیب لټول دي او د دې سوال په جواب کښې پوره خطره ده چې جواب ورکوونکے د نوکر په باره کښې اُووائي چې د کار غل دے، حرام خور دے، وغیره او ګنهګار شي. ❁ **ته** د شپې ناوخته پورې وِیښ ناست ئې، د سحر لمُونځ هم کوے او که نه؟ ❁ تاسو لمُونځ کوئ که نه؟ ❁ ستاسو والِد صاحب لمُونځ ګُزاره دے که نه؟ ❁ تا د اوسه پورې نوې جامے [کپړے] نه دي اغوستې! د اختر لمُونځ دې هم کړے دے او که نه؟ ❁ د رَمَضَان په میاشت کښې د چا نه تپوس کول: واه! هلکه نن ډیر تازه ښکارې! روژه دې هم نیولې ده او که نه؟ ❁ دا ځل په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې تا څو روژے اُونیولې؟ ❁ تراویح خو درنه کله نه دي پاتې شوي؟ ❁ ته پوره زکوٰة اوباسې که نه؟ ❁ ستا کور والا [یعني د بچو مور] شریفه خو ده کنه؟ ❁ جنګ خو نه کوي؟ (هم دا تپوسونه په زنانؤ کښې هُم د خاوند په باره کښې **د عیبونو د لټون** دي) ❁ د واده شوي جینئ د مور نه تپوس کول: ستا د لور خوابښې ښه ده او که نه؟ ❁ جنګیرئ خو نه ده؟ ❁ ډوډئ ورکوي او که نه؟ ❁ لور خو دې نه تنګوي؟ ❁ خپل ځوئ ته شیطاني خو نه کوي؟ ❁ د هغې هغه طلاقئ لور چې په کور ناسته ده هغه څه لانجې خو نه جوړَوي؟ ❁ **او** د ځوئ د واده نه پس د هغه د مور نه تپوس کول: اوس دې ځوئ! ستا خیال ساتي او که نه؟ ❁ تنخواه چې راوړي د مخکښې په شان ئې تا له درکوي که خپلې ښځې له ئې ورکوي؟ ❁ اِنګور خو دې د جادُو په زور خپل ځان طرف ته نه دے اړَولے؟ ❁ اِنګور دې ښه ده که نه؟ ❁ تعویذونه خو نه کوي؟ ❁ ژبه خو ئې اوګده نه ده ؟ ❁ ستا عِزَّت کوي که نه؟ ❁ هغه بله ورځ د فلانکي د کور نه تیز تیز آوازونه راتلَل څوك څوك په جګړه وو؟ ❁ آو! خورې د هغې خاوند ډیر ظالِم دے هغه غریبه چرې بے قصوره خو نه وهي؟ ❁ د ناوك [یعني د واده والا هلك] نه تپوس کول: سخر صاحِب خو دې په جَهیز ورکولو کښې د شومتیا نه کار نه دے اغستے؟

❁ هغه ورځ دې څان ډير ساز کړے وو او د سخر کره تلے وې، سخر صاحب درته څه نظر اوکړو که نه؟ ❁ ستا ئې صحيح ميلمستيا کړې وه که نه؟ ❁ د بال بچو والا اسلامي ورور نه تپوس کول: ستاسو د بچو مور پينځه وخته لمُونځ کوي که نه؟ ❁ ستا د وروڼـو نه پرده کوي که نه؟ ❁ بے پرده خو نه ګرځي؟ ❁ ستا سَيټ [يعني مالِك] صحيح سړے دے که نه؟ ❁ شوم خو نه دے؟ ❁ بد اَخلاقه خو نه دے؟ ❁ نوکرانو ته کنزلې خو نه کوي؟ ❁ د طالبِ علمانو نه بے حاجته تپوسونه کول: ستاسو فلانکے اُستاذ څنګه سبق ښائي؟ ❁ د هغه په سبق پوهيږئ هم او که نه؟ ❁ د چا د ميلمه نه تپوس کول: وايه کنه! د کوربه څه خوند شته که نه؟ ❁ څنګه! ميلمَستيا دې صحيح کوي که نه ؟ ❁ د دعوتِ اسلامي د فلانکـئ حلقې د مُشاوَرت نوے نګران تاسو ته څنګه ښکاره شو؟ ❁ اسلامي وروڼـه خو رتي نه؟ ❁ د نِګران نه تپوس کول: فلانکے مُبَلِّغ ستاسو خبره منې که خپله خوښه کوي؟ ❁ فلانکے ئې د تنظيمي ذمه دارئ نه لرې کړو، ولې د هغه کردار کمزورے وو که څنګه؟ ❁ فلانکے مُدَرِّس يا ناظِم ئې فارغ کړو، هغه څه ګړ بړ کړې وو؟ ❁ د يو مُبَلِّغ نه تپوس کول: رِښتيا رِښتيا وايه چې تا نن بيان د خپل واه واه کولو [يعني د خپل صِفَت غوښتلو] د پاره کړے وو که د الله تعالیٰ د رضا د پاره؟ ❁ په يو محفلِ نعت کښې غير حاضر نعت خوان نه تپوس کول: فلانکي ځائے ته د نعت خوانئ د پاره ته په دې وجه نه وې راغلے چې هلته به خوك ”څه“ راکړي که نه؟ ❁ تاسو صِرف مدني چينل ګورئ که په نورو چينلو د ګناهونو نه ډك پروګرامونه هم ګورئ؟ ❁ فِلمونه او ډرامې خو نه ګورئ؟ ❁ فُلانکي اَفسر ستاسو کار هسې کړے وو که نه! پيسې ميسې خو ئې نه غوښتلې؟ ❁ د فُلانکي ګاډي ته وهلے وې او زخمي کړے ئې وې، غَلَطي ستا وه که د هغه؟ ❁ فُلانکي ډاکټر صحيح چيك کړئ که نه هسې ئې درنه فيس واخستو؟ ❁ طلاق ورکوونکي دوست نه تپوس کول: يارا! تا هغې ته ولې طلاق ورکړو؟ (په دې سوال عام طور صحيح د ګناهونو سلسله شروع شي) ❁ (هسې فُضول تپوس کول) هغه دُکاندار څنګه دے؟ ❁ ټګ خو نه دے؟ ❁ لوټ کول خو نه کوي؟

(يعني ډير ګران پوشه خو نه دے) ❁ [هغه فلانکے] ډير شريف ښکاري، تا ته به معلوم وي، چرې ټګ، بدمعاش خو نه دے؟ ❁ ستا نوے ګاونډي څنګه دے؟ ځان ترينه ساته ما ته خو سم سړے نه ښکاري!

کسی کی خامیاں دیکھیں نہ میری آنکھیں | اور سنیں نہ کان بھی عیبوں کا تذکرہ یارب

چې مې نه لټوي سترګې د چا عيب | او نه اورم د عيبونو تذکِره يا ربّ

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّى الله عليه وآله وسلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هغوئي خوږو خبرو زما د زړه دُنيا بدله کړه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د فضولو تپوسونو او د خلقو د عيبونو د لټولو او معلولو د سپيره عادت ختمولو د پاره، که څوك د چا عيب بيان کړي هغه په حِکمتِ عمليځ سره د منع کولو او په مُمکِنه صورتونو کښې د هغه د عيب ښکاره کولو د بد عادت ختمولو د جذبے موندلو د پاره د غِيبتونو، **چُغلئ** او بَدګُمانئ نه د بچ کيدلو او بچ کولو وغيره احساس پيدا کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول کښې هر وخت شامل اوسئ، د سُنَّتو د تربيَت دپاره **مَدَني قافلو** کښې **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ، کامياب ژوند تيرولو او د آخرت د کاميابئ دپاره د ”**نيک اعمال**“ مطابق عمل کوئ او روزانه د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه د ”**نيک اعمال**“ رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ او د خپل دې مَدَني مقصد چې، ”**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**“ حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره مياشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربيَّت په **مدني قافله** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته يو مَدَني سپرلے اَوروم، چنانچه د کراچئ د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے: د نيکو صحبتونو نه د لرې والي په سبب زه د

سندرو، باجو او فلمونو ډرامو د کتلو په ګناهونو کښې اخته ووم، زما د ژوند شپې او ورځې په نافرمانئ کښې تيريدې، زما د بهترئ سبب دا جوړ شو چې يوه ورځ مې د خپلې علاقے د يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي عاشقِ رسول سره ملاقات اوشو، د سلام او مُصافَحه [يعني لاس مِلاووَلو] نه پس ئې راته په ډير ښکلي انداز کښې خپل تعارُف اوکړو او زما نه ئې زما د نوم وغيره تپوس اوکړو او د خپل دې مَدَني مقصد چې "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" په باره کښې ئې په ما اِنفِرادي **کوشش** کول شروع کړو، د نيکو د رَغبت او د ګناهونو نه د نفرت ذِهن ئې راکړو او په دې باره کښې ئې د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغينو د سُنَّتو ډکو بيانونو په برکت ښکاره شوي حيرانوونکي "مَدَني سپرلي" د ترغِيب په طور راواوروَل. **د هغوئي خوږو خبرو زما د زړه دُنيا بدله کړه** او زه د دعوتِ اسلامي په خوشبوداره دِيني ماحول کښې پوخ شامل شوم. اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دِيني ماحول په برکت راته د ګناهونو نه نَفرت، د نيکو سره **محبّت**،او د لمُونځونو د پابندئ سعادت رانصيب شو او د **حُقوقُ الله** سره سره د **حقوقُ العِباد** د ادا کولو ذِهن مې هم جوړ شو.

ہے فلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں
ڈوب سکتی ہی نہیں موجوں کی طغیانی میں جس کی کشتی ہو محمد کی نگہبانی میں

کامراني او کاميابي ده په نرمئ او آسانئ کښې
هر جوړ شوے کار ورانيږي نادانئ کښې
کله هم ډوبيدے نه شي په چپو کښې د طوفان
چې کشتئ وي د چا د محمد په نګرانئ کښې

## د نرمئ اَهَمِّيَّت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! واقعي په "**خوږه وَينا**" کښې ډير اثر دے، په خوږه وينا د کاڼـي په شان زړه هم نرميږي، لِهٰذا په **اِنفِرادي کوشش** کولو کښې هميشه د نرمئ نه کار اغستل پکـار دي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَکۡتَبَةُ الۡمَدِينه چاپ

شوي د 1197 صفحو كتاب"**بهارِ شريعت**" جلد3 صفحه 572 كښې حديثِ پاک دے: څوك چې د نرمۍ نه محرومه شو د خير (يعني د نيكۍ) نه محرومه شو.

(صحيح مُسلِم ص 1398 حديث 75(2592)

الٰہی حُسنِ اخلاق اور نرمی کی سعادت دے گناہوں پر ندامت دے، صداقت دے شرافت دے

اِلٰهي د حُسنِ اَخلاق او د نرمۍ سعادت را كړې

په ګناهونو پښيماني، صداقت او شرافت را كړې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د فرعون طرف ته د نيكۍ د دعوت د پاره د ليږلو په موقع د نرمۍ حكم

كه د دِيني ماحول والا په طبيعت كښې غُصَّه، بد مِزاجي او بداَخلاقي وي نو كاميابي حاصلول مشكل دي، لِهٰذاخپل اخلاق صحيح كړئ، او هسې هم څوك چې د دعوتِ اسلامي د دِيني كارونو شوق لري د هغه نرم مِزاجه كيدل ضروري دي ځكه چې د بے ځايه سختۍ كولو په وجه ډير ځله جوړ شوي كارونه وران شي. د نرمۍ په **اَهَمِّيَّت** باندې د دې حكايت نه د ځان پوهه كولو كوشش اوكړئ، چنانچه منقول دي چې يو كس د مامونُ الرَّشيد احتِساب اوكړو (يعني په يوه خطا ئې اُورتو) او د هغه سره ئې په سختۍ خبرې اوكړې نو مامونُ الرَّشيد ورته اُووئيل: اے ځوانه! **اللّٰه** تعالیٰ ستا نه ښه كسان چې كله زما نه بَدتَر كس ته ور وليږل نو هغوئي ته ئې حكم اوكړو چې د هغه سره په نرمۍ خبرې اوكړئ، يعني حضراتِ سَيِّدَينا موسٰی و هارون علیهما السّلام (چې ستا نه غوره وو هغوئي) ئې **فِرعون** (چې زما نه بدتر وو د هغه) خوا ته وليږل نو ورته ئې اُوفرمائيل:

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا

(پ 16 طٰه: 44)

مفهوم ترجمهٔ كنزُ الاِيمان: نو د هغه سره په نرمۍ خبره اوكړئ.

(اِتِّحافُ السَّادَةِ لِلزَّبِيدی ج8 ص 104 مُلَخَّصاً)

# شرابي پوليس ته حواله کول څنګه دي؟

د صحابئ رسول حضرت سَيِّدُنا عُقبَه بِن عامِر رضی اللہ عنہ کاتِب حضرت سَيِّدُنا **ابوهَيُثَم** رضی اللہ عنہ فرمائي: ما حضرت سَيِّدُنا عُقبَه بن عامِر رضی اللہ عنہ ته عرض اوکړو: "زما ګاونډيان شراب څښي او زه غواړم چې پوليس را اُوغواړم او پرې اوئې نيسم." هغوئي رضی اللہ عنہ اُوفرمائيل: داسې مه کوه، هغوئي ته وعظ او نصيحت اوکړه. ما عرض اوکړو: ما هغوئي منع کړي دي خو هغوئي دا کار نه پرېږدي. (نو اوس) زه د پوليس په ذريعه هغوئي نيول غواړم. دا ئې چې واوريدل هغوئي رضی اللہ عنہ اُوفرمائيل: داسې مه کوه، بيشکه ما د خوږ نبي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نه دا فرمان مبارك اوريدلے دے: چا چې د يو کس عيب پټ کړو لکه هغه چې ژوندئ خخه کړے شوې (يعني په قبر کښې اچولې شوې) ماشومه د هغې په قبر کښې ژوندئ کړه (يعني هغه ئې بچ کړه).

(الاحسان بترتيبِ صحيح ابن حبان ج1 ص 367 حديث 518)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** شراب څښل بيشکه ډيره لويه ګناه ده خو چې څوك په پټه داسې کوي بيشکه هغه ته دې د نيکئ دعوت ورکړے شي او توبه کولو ته دې تيار کړے شي خو د هغه پرده ساتل لازمي دي.

# (1)شراب پخپله سِرکه جوړ شو ! څنګه؟

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د شرابي د پاره په دُنيا او آخِرت کښې خرابي ده هغه ته توبه کول پکار دي، د عبرت حاصلولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 132 صفحو کتاب "**توبہ کی روایات وحکایات**" کښې ذِکر کړے شوي دوه د ايمان نه ډك حکايتونه د ضروري ردّ و بدل سره ستاسو په خدمت کښې وړاندې کيږي: د مسلمانانو دويم خليفه اَمِيرُالمُؤمِنِين، **حضرت سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم** رضی اللہ عنہ يو ځل د **مدينے مُنَوَّرے** په يوه پاکيزه کوڅه تيريدلو نو د يو ځلمي سره مخامخ شو، هغه د جامو لاندې يو بوتل پټ کړے وو. حضرت سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ ترينه تپوس اوکړو: "اے ځلميه! دا د جامو لاندې دې څه پټ کړي دي؟" په هغه بوتل کښې **شراب** وو، هغه ځلمي د ويرې نه شراب نه شُو وئيلے، په

زړه کښې ئې دُعا اوکړه: یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته ما د حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مخکښې شرمنده او رُسوا مه کړې، د دوئي په مخکښې په ما پرده راواچوې، زه توبه کووم، بیا به کله هم شراب نه څښم. د هغې نه پس هغه ځلمي عرض اوکړو: ''یا اَمیرَ الْمُؤمِنِین! ما سره د سِرکې بوتل دے.'' هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اُوفرمائیل: ''ما ته ئې وښایه!'' چې کله هغه، هغه بوتل هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وړاندې کړو او حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وکتلو، نو واقعي هغه سِرکه وه. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص 2827)

د اللّٰه پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیِّین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2) شرابي ځلمے د وِلایت په مرتبه

سُبْحٰنَ اللّٰه! د توبه ویستلو هم څه ښه ښکلي برکتونه دي چې د توبه په برکت شراب په سِرکه کښې بدل شو! د یو بل شرابي ځلمي حکایت واورئ، چې هغه توبه وِیستله او اوچت مقام ئې حاصل کړو، چنانچه حضرت سَیِّدُنا عُتبَۃُ الغُلام رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ځلمے وو او (د توبه کولو نه مخکښې) په فِسق و فُجور [یعني د ګناه په کارونو] او شراب څښلو کښې مشهور وو. یوه ورځ د حضرت سَیِّدُناحَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ مجلس ته راغلو. حضرت سَیِّدُناحَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آیتِ مبارکه تفسیر بیانولو:

اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پ 27 الحدید 16)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا په ایمان والؤ تر اوسه هغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه ښکته شي د اللّٰه د یاد د پاره.

هغوئي دومره اثر لرونکے بیان اوکړو چې خلق په ژړا شو. یو ځلمے [عُتبَۃُ الغُلام] پاڅیدو او اوئې وئیل: یا سَیِّدی! آیا اللّٰه پاک به زما په شان د فاسق و فاجر توبه قبوله کړي چې زه توبه اُوباسم؟ شیخ حضرت سَیِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اُوفرمائیل: بیشکه اللّٰه پاک به ستا توبه قبوله کړي. کله چې عُتبَۃُ الْغُلام رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ دا خبره واوریدله نو د هغه رنګ زِیَړ شو، ټول بدن ئې په رپیدو شو، چغه ئې اوکړه او

راپريوتو. چې په هوش کښې راغلو نو حضرت سَيِّدُناحَسَن بَصري رحمۃ اللہ علیہ د هغه خوا ته تشريف راوړو او دا شعرونه ئې اُووئيل:

اَيَا شَابًّا لِّرَبِّ الْعَرْشِ عَاصِیْ اَتَدْرِیْ مَاجَزَاءُ ذَوِی الْمَعَاصِیْ

(اے د رَبُّ العرش نافرماني کوونکيه ځلميه! آيا تا ته معلومه ده چې د ګنهګارانو سزا څه ده؟)

سَعِيْرٌ لِّلْعُصَاةِ لَهَا زَفِيْرٌ وَغَيْظٌ يَوْمٍ يُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ

(د نافرمانو د پاره ګرزونکے دوزخ دے چې په هغې کښې به ګرځا وي او په کومه ورځ چې د تَندِي نه اُونيولے شي نو په هغه ورځ به غضب وي)

فَاِنْ تَصْبِرْ عَلَی النِّيْرَانِ فَاعْصِهٗ وَاِلَّا كُنْ عَنِ الْعِصْيَانِ قَاصِیْ

(پس که ته په اور صبر کولے شې نو نافرماني کوه، ګنې نافرماني پريږده)

وَفِيْمَا قَدْ كَسَبْتَ مِنَ الْخَطَايَا رَهِنْتَ النَّفْسَ فَاجْهَدْ فِي الْخَلَاصِیْ

(تا چې کومې ګناه کړي دي په هغې کښې ته خپل نفس نخښلولے ئې، اوس د خلاصي د پاره کوشش اوکړه)

عُتبَۃُ الْغُلام رحمۃ اللہ علیہ د زړه د نرميدلو په وجه د ژړا په حالت کښې وو، چې کله لږ صحيح شو، نو عرض ئې اوکړو: اے شيخ! آيا زما بدنصيبه کس توبه به رَبِّ رَحِيم قبوله کړي؟ شيخ رحمۃ اللہ علیہ اُوفرمائيل: "وَلې نه، اللّٰه پاک د خپل ګنهګار بنده توبه او معافي غوښتل قبلوي." بيا حضرت سَيِّدُنا عُتبَۃُ الْغُلام رحمۃ اللہ علیہ درې دُعاګانې اوکړې: (1) اے زما اللّٰه! که تا زما توبه قبوله کړې وي او زما ګناهونه دې مُعاف کړي وي نو ما ته داسې پوهه او ياد داشت راکړې، چې د علومِ دين او قرآنِ کريم نه څه واورم چې هغه را ته حِفظ (يعني ياد) شي (2) اے اللّٰه! ما ته ښکُلے آواز راکړې که يو د کاڼي په شان زړه لرونکے هم زما قراءت واوري چې د هغه زړه نرم شي (3) اے اللّٰه! رِزقِ حلال را عطا کړې او د هغه ځائے نه رِزق راکړې د کوم ځائے نه چې زما ګُمان هم نه وي. اللّٰه پاک د هغه ټولې دُعاګانې قبولې کړې. د هغه حافِظه ښه مضبوطه شوه، کله به ئې

چې د قرآنِ كريم تِلاوَت كولو نو د هغه د تِلاوَت د اوريدو سره به ګنهګارانو توبه كوله، د هغوئي په كور كښې به هره ورځ د اِنګولي [يعني سالن] يو كنډولے او دوه ډوډۍ پرتې وې او هيڅ معلومات به نه كيدلو چې څوك ئې ګرځدي. تر دې چې هغوئي وَفات شو. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص2928) د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّيْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د سرو زرو ګوتمه په ګوته كولو والا كس اصلاح

زمونږ بُزُرګانِ دِين رحمۃُ اللہ علیہم به د خپلو ملاقات كوونكو د اصلاح كولو په كوشش كښې مصروفه اوسيدل، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداره مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 561 صفحو كتاب "**مَلفوظاتِ اعلیٰ حضرت**" صفحه 309 كښې د وركړې شوي مضمون خلاصه دا: د مازديګر د لمانځه نه پس يو ډير ښكُلے منظر وو، د لرې نزدې نه راغلي خلق د مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، **اعلیٰ حضرت** رحمۃُ اللہ علیہ په خدمت كښې حاضريدل او د دې ربښتيني عاشقِ رسول په **زيارت او مُلاقات** ئې خپل زړونه روښانه كول. په دې كښې يو صاحب د سرو زرو **ګوتمه** په ګوته كړې حاضر شو نو حامِئ سُنَّت، **اعلیٰ حضرت** رحمۃُ اللہ علیہ د نَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر (يعني د بَدۍ نه د منع كولو) د فرض ادا كولو په نِيّت هغه ته داسې اُوفرمائيل: د نارِينه د پاره سره زر **حرام** دي، صرف د يو غمي د سپينو زرو ګوتمه چې د څلور نيمې ماشے نه كمه وي د هغې اجازت دے. كوم نارينه چې د سرو زرو، تانبے يا پيتلو وغيره يا د بل هر قِسم اُوسپنې ګوتمه په ګوته كړې يا د سپينو زرو د څلور نيمې ماشے يا د دې وزن نه زياته يوه ګوتمه يا د يوې نه زياتې ګوتمې په ګوته كړې اګرچې ټولې را يو ځائے كړې او د څلور نيمو ماشو نه كمې هم وي نو د هغه لمُونځ **مَكروهِ تَحريمي** دے. (ماخوذ از مَلفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص309) يعني د هغې **اِعاده** (يعني بيا) كول واجب دي. فُقَهائے كِرام رحمۃُ اللہ علیہم فرمائي: د كوم څيز چې بندګانو ته حكم دے د هغې په ادا كولو كښې چې څه نقصان پيدا شي نو د نقصان لرې كولو د پاره هغه عمل بيا كولو ته **اِعاده** وائي. (دُرِّمُختار و رَدُّ المُحتار ج2 ص629)

د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## کاش! چې مونږه هم د ګناهونو نه بچ کوونکي جوړ شو

کاش چې! مونږ ټول غُلامانِ اعلیٰ حضرت هم "**د نیکئ د دعوت**" ورکولو او خلق د ګناهونو نه د بچ کولو په مُعامَله کښې هر وخت تیار اوسو، دا یاد ساتئ چې که یو کس ناجائزه ګوتمه یا د هر قِسمه وسپنې څلے [اچولے وي] یا ئې د هر قِسمه وسپنې زنځير په غاړه کړے وي او د ليدونکي غالِب ګُمان دا وي چې منع ئې کړم نو منع به شي نو په هغه منع کول واجب دي.که منع ئې نه کړي نو ګنهګار به شي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1232 صفحو کتاب "**بهارِ شريعت**" (جلد3) د صفحه 424 نه اول دوه حديثونه اُوګورئ، بيا د هغې نه پس د ګوتمې په باره کښې د نيکئ د دعوت نور مدني ګلونه قبول کړئ.

## (1) د سرو زرو ګوتمه ..... سګروَټه

په **صحيح مسلم** کښې د **عَبدُ الله بن عبّاس** رضی اللہ عنھما نه روايت دے چې رسولُ الله صلَّى اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د يو کس په لاس کښې د **سرو زرو ګوتمه** وليدله نو هغه ئې ترينه اُووِيستله او غوزار ئې کړه او اوئې فرمائيل: آيا څوك په خپل لاس کښې **سګروَټه** ګرځي! چې کله **حضور** (صلَّى اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم) تشريف يوړلو. نو يو کس هغه ته اُووئيل: خپله ګوتمه راواخله او (د ګوته کولو په ځائے) په بل څه کار ئې راوله. هغوئي اُووئيل: په خدائے مې دې قَسَم وي! زه به هغه کله هم وانخلم ولې چې هغه رسولُ الله صلَّى اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم غوزاره کړې ده. (صحيح مُسلِم ص 1175 حديث 2090)

## (2) د بُتانو او دوزخيانو کالے

تِرمِذی ابوداؤد و نَسائي د **بُرِيده** رضی اللہ عنہ نه روايت کړے دے چې يو کس د **پيتلو ګوتمه** په ګوته کړې وه، **حُضُور** (صلَّى اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم) اُوفرمائيل: "څه خبره ده چې

ستا نه د **بُت** بوئي راځي؟ هغوئي هغه ګوتمه غوزاره کړه، بيا ئي د **اوسپني ګوتمه** په ګوته کړه او راغے، نو اوئي فرمائيل: څه خبره ده چي تا د **دوزخيانو کالے** په ګوته کړے دے؟ هغه ئي هم غوزاره کړه او عرض ئي اوکړو: **يا رَسولَ الله** (صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! د څه څيز ګوتمه جوړه کړم؟ اوئي فرمائيل: د **سپينو زرو** جوړه کړه او يو مثقال مه پوره کوه. (يعني چي د څلور نيمي ماشي نه کمه وي) (سُنَنِ ابی داؤد ج4 ص122 حديث 4223)

## د ګوتمي 19 مدني ګلونه

❁ نارينه لره د **سرو زرو** ګوتمه په ګوته کول حرام دي. "د مدينے سُلطان، رَحمتِ دوجهان صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو ګوتمه په ګوته کولو نه منع فرمائيلي دي" (صحيح بُخاری ج4 ص67 حديث 5863) ❁ نابالغه هلك ته د سرو او د سپينو زرو کالي اچول **حرام** دي او چا چي ور واچول هغه به ګنهګار وي. هم دغسي د ماشومانو هلکانو په لاسونو، ښپو بے ضرورته نکريزي لګول **ناجائِزه** دي، زنانه ئي په خپلو لاسونو او ښپو لګولے شي خو که هلك له ئي اُولګوي نو ګنهګاره به وي (بهارِشريعت ج3 ص428 دُرِّمُختار و ردُّالمُحتار ج9 ص598) د وړو جينکو په لاسونو، ښپو نکريزو لګولو کښي باک نشته ❁ د **وسپني** ګوتمه د دوزخيانو کالے دے. (تِرمِذی ج3 ص305 حديث 1792) ❁ د نارينه د پاره هم هغه ګوتمه جائِز ده کومه چي د نارينه د ګوتمي په شان وي يعني چي صرف د يو غمي وي، او که په هغي کښي (د يو نه زيات يعني) ډير غمي وي نو اګرکه هغه د سپينو زرو هم وي، [بيا هُم] د نارينه د پاره **ناجائِزه** ده (ردُّالمُحتار ج9 ص597) ❁ د غمي نه بغيرګوتمه اچول **ناجائِزه** دي ځکه چي دا ګوتمه نه ده بلکه څلے دے ❁ د حُروفِ مُقطَّعات (مُ.قَطْ.طَ.عات) [يعني کٰهٰيٰعٰص، حم، الر وغيره] ګوتمه په ګوته کول جائِز دي خو د حروفِ مُقطّعات والا ګوتمه بے اودسه په ګوته کول او بے اودسه ورته لاس لګول، يا د لاس مِلاوولو په وخت کښي ورته د بے اودسه سړي لاس لګيدل جائِز نه دي. ❁ هم دغسي د نارينه د پاره د يوې نه زياتي (جائِزي) ګوتمي اچول يا څلے (يو يا ډير) په ګوته کول هم **ناجائزه** دي ځکه چي دا (څلے) ګوتمه نه وي. زنانه څلے اچولے شي. (بهارِشريعت ج3 ص428) ❁ د سپينو

زرو يوه ګوتمه د يو غمي چې په وزن کښې د څلور نيمې ماشې (يعني څلور ګرامه او 374 ملي ګرام) نه کمه وي، اچول جائِز دي اګر که د مُهر د ضرورت نه بغير وي، (خو د دې پريښودل (يعني چا ته چې د مهر لګولو ضرورت نه وي د هغه د پاره جائِزګوتمه هم نه په ګوته کول) افضل دي، او(څوک چې په ګوتمه باندې مهرلګوي د هغوئ د پاره) د مهر په غرض (په ګوته کول) صرف جائِز نه بلکه **سُنَّت** دي، خو که تَکَبُّر يا د زنانه په شان ډَوَل، سِنګار يا بل څه خراب غرض ئې په نيّت کښې وي نو يوه ګوتمه خو څه په دې نيّت خو ښې جامې اغوستل هم جائز نه دي (فتاوىٰ رَضَوِيَّه ج22 ص141) ❁ په اخترونو کښې ګوتمه په ګوته کول مُستحب دي. (بهارِ شريعت ج1 ص780.779) خو نارينه دې هم هغه جائِزه ګوتمه په ګوته کوي ❁ ګوتمه په ګوته کول صرف د هغوئي د پاره **سُنَّت** دي چا ته چې د مُهر (يعني اِسټامپ STAMP) لګولو حاجت وي، لکه بادشاه، قاضي او عُلَماء کوم چې په فتوىٰ باندې (په ګوتمه) مهر(يعني اِسټامپ) لګوي، د دوئ نه علاوه د نورو خلقو د پاره چا ته چې د مُهر لګولو حاجت نه وي [د هغوئي د پاره] **سُنَّت** نه ده اَلبَتَّه په ګوته کول جائِز دي. (عالمگيرى ج5 ص335) په دې زمانه کښې د ګوتمې په ذريعه د مُهر لګولو عُرف (يعني رواج) نشته، بلکه د دې کار د پاره سټامپ [يعني د ربړ وغيره مُهر] جوړيږي، لِهٰذا چې کومو قاضيانو صاحبانو وغيره ته (په ګوتمه) د مهر لګولو ضرورت نه وي د هغوئ د پاره هم ګوتمه په ګوته کول **سُنَّت** پاتې نه شو. ❁ نارينه ته پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تلي طرف ته او زنانه دې غمے د لاس شا طرف ته ساتي. (الهداية ج4 ص367) ❁ د سپينو زرو څلے خاص د زنانه لباس (يعني کالے) دے د نارينه د پاره [په ګوته کول] مکروهِ (تحريمي، ناجائِزه اوګناه ده). (فتاوىٰ رَضَوِيَّه ج22 ص130) ❁ زنانه د سرو او سپينو زرو که څومره غواړي کالي اچولے شي او په دې کښې د وزن او د غمو د شمير هيڅ قيد نشته. ❁ د وسپنې ګوتمې ته که د سپينو زرو خول (يعني قوله) ور واچوي چې وسپنه پکښې بالکل نه ښکاري، داسې ګوتمه (د نارينه او د زنانه د يو د پاره هم) په ګوته کول منع نه دي. (عالمگيري ج5 ص335) ❁ په دوارو لاسونو کښې په هر يو لاس ګوتمه په ګوته کولے شئ او په کچئ ګوته يعني د ټولو نه وړوکې ګوته کښې په ګوته کول پکار

دي. (ردُّالمُحتار ج9 ص596) ❁ د مَنَبتي يا دَم كړے شوي د اوسپني ګړه هم د نارينه د پاره اچول ناجائِزه دي هم دغسې ❁ د مدينةُ المُنوّره يا د اجميرشريف د چاندئ يا د هر قسم وسپنې څلے او د استيل ګوتمه هم جائِز نه دي ❁ د بواسيرو يا د نورو بيمارو د پاره دم شوے د سپينو زرو يا د هر قِسم وسپني څلے هم د نارينه د پاره جائِز نه دے ❁ كه يو اسلامي ورور د اوسپني كړه يا د وسپني څلے، ناجائزه ګوتمه، يا د وسپني زنځير (Bracelet Chain) اچولے وي نو شرعاً لازِم دي چې اوس اوس ئې لرې كړئ او توبه هم اوكړئ او د بيا د پاره د نه اچولو عهد (يعني پخه وعده) هم اوكړئ. او بل يو اسلامي وررور ته ئې هم په ګوته كولو د پاره مه وركوئ.

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی (وسائلِ بخشش ص ٢٦٤)

اوكړئ توبه لوئے دے د الله رحمت ګنې قبر كښې به ييښ شي درته لوئے زحمت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په جامعة المَدينه كښې مې داخله واخسته

د **ناجائزه** ګوتمو وغيره نه پڅپله د بچ كيدو او د نورو د بچ كولو جَذبه موندلو د پاره، د ګناهونو د عادت نه د ځان خَلاصَولو د پاره، د نيك جوړيدو او د نورو خلقو د نيك جوړولو د پاره او ډير ډير د نيكئ د دعوت د خوررولو شوق زياتولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول كښې هر وخت شامل اوسئ، د سُنَّتو د تربِيَت دپاره **مَدَني قافلو** كښې **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر كوئ، كامياب ژوند تيرولو او د آخرت د كاميابئ دپاره د "**نيک اعمال**" مطابق عمل كوئ او روزانه د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه د "**نيک اعمال**" رساله كښې خانے ډكوئ او د هرې مياشتې په يكم تاريخ ئې خپل ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ او د خپل دي مَدَني مقصد چې "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح كوشش كول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره

میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربیت په **مدني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلے اَورَووم، چنانچه د **پنډي ګهیپ** (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول سره د تړون نه مخکښې مَعَاذَالله زه د لمُونځونو نه ډیر لرې د ګناهونو په سَمندر کښې ډوب ووم او په ډیر شوق به مې په کور کښې په ټي وي باندې فِلمونو ډرامو، سندرو او سازونو اوریدو کښې خپل وخت بربادوَلو. د توبې په لاره زما سفر څه داسې شروع شو چې په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** 1429ھ (بمطابق 2008ء) کښې مې یوه ورځ په کیبل باندې مختلفې چینلې کتلې چې ناڅاپه زما نَظر په **مَدَني چینل** پریوتو. چې اُومې کتلو نو ډیره مزه ئې راکړه! مَدَني چینل ما ته ډیر ښه ښکاره شو او ما د مَدَني چینل د کتلو معمول جوړ کړو. د مَدَني چینل په برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه زه په قلاره قلاره دِیني ماحول ته نزدې شوم. د **شَوالُ المُکَرَّم** (1429ھ) په اَخِیرئ عَشَره کښې د دَعوتِ اِسلامي **بَینُ الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتماع په مَدَني چینل براهِ راست** (LIVE) **ښودلې شوه.** د اِجتِماع په اخیرئ ورځ خصوصي نِشَست کښې مو چې په مَدَني چینل یو رِقَّت انګیز [یعني ژړوونکے] بیان په عنوان "**د ظُلم اَنجام**" واوریدو نو مونږ د ټول کور کسان د **الله** پاک د ویرې نه ولړزیدو، ټول وَیَریدل او هم په **هغه وخت ئې د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه** او اَلْحَمْدُلِلّٰه ټول د **حُضُورِ غوثِ پاك** رحمۃ اللہ علیہ په سلسله کښې مُریدان شول او قادري رَضَوي جوړ شول. د **الله** پاک په رَحمَت زمونږ په خاندان کښې مَدَني اِنقِلاب راغے او زمونږه خپلوانو هم د اِنفِرادي کوشش په بَرَکت دِیني ماحول سره تړون اوکړو او د حُضُورِ غوثِ پاك رحمۃ اللہ علیہ په سلسله کښې مُریدان شول. د دې لیك د ساعته پورې ما د عِلمِ دِین د مَدَني ګلونو د راجمع کولو د پاره د دعوتِ اسلامي په انتِظام کښې چلیدونکې **جَامِعَةُالمَدِينَه** کښې په درسِ نِظامي کښې داخله هم اخستې ده.

اے گناہوں کے مریضو! چاہتے ہو گر شفا — آن کرتے ہی رہو تم مَدَنی چینل کو سدا

اِس میں عِصیاں سے حفاظت کا بَہت سامان ہے　　اِن شاءاللہ خُلد میں بھی داخِلہ آسان ہے
مَدَنی چینل میں نبی کی سنتوں کی دھوم ہے
اس لئے شیطاں لعیں رنجور ہے مغموم ہے

(بتصرف ،وسائلِ بخشش ص۶۰۲)

اے د ګناهونو مريضانو! كه غواړئ شِفا
ګورئ تاسو هم دا مَدَني چينل سدا
دې کښې د ګناهونو نه د حفاظت ډير دے سامان
اِنْ شَآءَاللّٰه شي به مو جنت ته تلل آسان
مدني چينل ښائي سُنّت د نبي سُلطان
ځکه ډير خفه او غم وهلے دے شيطان


صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مونږ دُنيا ته د څه د پاره راغلي يُو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د سُنَّتو ډك بيان ”د ظُلم اَنجام“چې هغوئي واوريدو او توبې کورنئ د ګناهونو نه توبه اوکړه، دا تاسو هم کم نه کم يو ځل ضرور واورئ. دا بيان تاسو د دَعوتِ اسلامي په ويب سائټ www.dawateislami.net باندې هم اوريدے شئ. د بيان رساله ”د ظُلم اَنجام“ هم د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه واخلئ او اوئې لوَلئ بلکه په ډير تعداد کښې ئې هديه کړئ او د خپلو خپلوانو د ايصالِ ثواب د پاره ئې تقسيم کړئ. د دې مَدَني سيرلي نه دا هم معلومه شوه چې کوم کار يو مُبَلِّغ نه شي کولے اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه کار مَدَني چينل کوي يعني د ګناهونو په دلدل کښې نښتي د معاشرے هغه کسان چې هغوئي جُماتونو ته نه راځي، او نه د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شرکت کوي او د عُلمائے کِرامو او د الله پاک د نيکو بندګانو او د مَدَني لباس والا د ګيرې او عِمامې والا عاشقانِ رسول سره د ناستې ولاړې شوق نه لري. مَدَني چينل د داسې خلقو کورونو ته داخليږي او هغوئي ته د هغوئي د ژوند حقيقي مقصد ښائي او نيك بخته د الله پاک په دربار کښې ټيټوي او د عِشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شربت پرېږ ښکبي. بيشکه مونږه دُنيا ته بيکاره يعني صرف د دُنيا د خوندونو اغستلو او د دې ځائے د سهولتونو نه د مزو اغستلو د پاره نه يو راغلي، بلکه مونږه دَلته د عِبادت د پاره را ليږلي شوي يو، بيا په مُقَرَّره وَخت کے زمونږ زړه بالکل هم نه غواړي خو د هغې باوجود به زمونږه مرګ راځي او د تورو تِيارو نه ډك قبر ته به يواځې کوز کړے شو، معلومه نه ده چې څو زره کاله به په قبر کښې تيروو او بيا به په حشر کښې پاڅولے شو او د قيامت په ورځ به د حساب کتاب سره مخامخ کيږو.

د راروانې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداگران پرانۍ سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net